داکتر محمد ایمل ۲۰۱۹/۰۳/۲۲

# جرګې او مرکې

## دوهمه برخه

## د اماني دورې لويې جرګې:

### - د «اتحاد مشرقي» په نامه لويه جرګه:

د ۱۹۱۹ م کال د فبروری په ۲۰ نېټه د ازادۍ غوښتونکو یوې ډلي د افغانستان تحت الحمایه پاچا امیر حبیب الله خان د یوې کودتا په ترڅ کې وواژه او تر دې وروسته د ده زوی اعلیحضرت امان الله خان د افغانستان بشپړه خپلواکي اعلان کړه او د افغان او انګرېز دریم جنګ ونښت، په جنګ کې انګرېزانو سخته او شرمېدلې ماته وخوړه او د متارکې وړاندیز یې وکړ. د افغانستان حکومت متارکه ومنله، خو انګرېزانو یو ځل بیا غوښتل، چې نظامي ماته په سیاسي ډګر کې جبیره کړي او هغه څه چې په جنګ کې یې له لاسه ورکړي وو په سوله کې یې ترلاسه کړي، د راولپنډۍ د سولې په غونډه کې یې د افغاني هیات مشر والي علي احمد خان وغولاوه او یوه مغلوبانه صلح نامه یې پرې لاسلیک کړه، خو بیا هم دولت نور اقدامات وکړل او د ۱۹۱۹ م کال په اګست کې انګرېزانو زمونږ بشپړه آزادي ومنله له دې سره هم داسې ګنګوسې لا خورې وې، چې انګرېزان به یو ځل بیا پر افغانستان وسله وال تیری وکړي، د داسې یوه تېري د مقابلې له پاره د مشرقي تنظیمه رئیس محمد نادر خان د (اتحاد مشرقي ) په نامه یوه لویه جرګه راوبلله. جرګه په ننګرهار کې د هډې ملا صاحب د زیارت ترخنګ را غونډه شوه، په دې غونډه کې د مشرقي( اوسنی لغمان، کونړ او ننګرهار د ولایتونو) د بېلابېلو قومونو سپین ږیري، عالمان، سادات،مشایخ او نور مخور سره را غونډ کړای شول او د خپلواکی د ساتنې او د وطن د دفاع او آبادۍ په برخه کې یې مهمې پرېکړې وکړې، دوی غوښتل، چې انګرېزان دې د افغانستان ازادي د زړه له کومې ومني او که نه نو د سرحد ټول اقوام او قبایل د جهاد له پاره چمتو او آماده دي او د افغانستان ازادي به په خپلو وینو ساتي.

په همدې غونډه کې د هر قوم مشرانو د پاک قران په حاشیه کې ژمنه لیک کړه، د هرقوم ذمه وارۍ یې وټاکلې، د جهاد مشرانو او علمبردارانو ته یوه یوه بنه تومانچه ورکړه شوه او پر نورو سوغاتونو سربېره هر یو قوم ته د جهاد یو یو علم شریف هم ورکړ شو، چې د جهاد ایتونه پکې لیکل شوي وو.

د همدې تاریخي غونډې په افتخار په مشرقي کې د «اتحاد مشرقي» په نامه یو اخبار د ۱۹۲۰ کال د فروری په ۲۸ نېټه په خپرونو پیل وکړ.

دا لویه جرګه د ازادۍ ساتلو له پاره شوې وه، د کمیت له پلوه لویه وه، د کیفیت له پلوه سره له دې، چې د ټول هېواد د مشرانو جرګه نه وه، خو اغېز یې عمومي او کیفیت یې لوړ و او انګرېزان یې مجبور کړل، چې د هندوستان په مشورې کې له افغاني هیات سره د موضوع د هر اړخیز حل له پاره خبرو ته چمتو شي.

## - د اساسي قانون لویه جرګه:

د افغانستان د خپلواکۍ او په څنګ کې یې د مشروطه او قانوني حکومت د ټینګېدلو له پاره منظمه روشنفکري مبارزه له پخوا نه پیل شوې وه او د مشروطیت غورځنګ، چې په ۱۹۰۵ کال کې په منظم ډول را منځ ته شوی و د وخت د تحت الحمایه پاچا له خوا په بېرحمۍ وکوټل شو، خو غلی نه شو او نور هم غښتلی شو، څو یې په نتیجه کې پاچا را نسکور او د ازادۍ جهاد پیل شو.

د دې« اساسي نظامنامې» د منلو او تصویب له پاره د ۱۹۲۳ کال د فبرورۍ په ۲۶ نېټه د ملت د مشرانو لویه جرګه را وغوښتله شوه، چې ۸۷۲ نماینده ګانو برخه پکې درلوده او د افغانستان لومړنی اساسي قانون یې تصویب کړ.

دې قانون ۷۳ مادې درلودې، چې زموږ د هېواد سیاسي او اجتماعي بنه، د خلکو حقوق، اداري تشکیلات او اساسات یې ټاکلي وو. دې قانون خلکو ته د فکر د ازادۍ، د کار د ازادۍ، د خبرو د ازادۍ او د کور او حیثیت او مصونیت وعده ورکړې وه او د قانون حکومت پکې اعلان شوی و.

د دې لویې جرګې کمیت او کیفیت دواړه لوړو او د اساسي قانون په تصویب سره یې افغانستان ته د قانوني ودې او پراختیا زمینه برابره کړه او هم د دې جرګې تر جوړېدو لږ وخت وړاندې د۱۹۲۱ کال په اګست کې د دولت شورئ جوړه شوې وه، چې د هېواد مخور، عالمان، سادات او مشایخ پکې را غونډ وو، د قوانینو مسودې به یې جوړولې او د ارګ په شمالي برج کې یې ځای ورته ټاکلی و.

## - د پغمان لویه جرګه:

دا لویه جرګه د ۱۹۲۴ کال په جولای کې په پغمان کې جوړه شوه او د دولت خارجي تړونونه، روابط، کورني قوانین او مسایل یې تر غور لاندې ونیول، لیکن په حقیقت کې دا لویه جرګه د منګلو د سر اخستنې په باب وه او کوم اعتراضونه، چې دوی په قوانینو در لوده د هغو ترمیم وشو. په دې لویه جرګه کې ټول ۱۰۵۲ تنه را غونډ شوي وو، چې ۲۳۱ تنه یې د دولت وتلي مامورین او پاتې یې د بېلابېلو ولایاتو خانان، سیدان، عالمان، شیخان او ټاکلي وکیلان وو.

د جرګې مشري د وخت پاچا په غاړه وه او د هېواد پر ټولو داخلي او خارجي چارو مفصل بحثونه او پرېکړې پکې وشوې دا جرګه د کمیت په لحاظ هم لویه وه او د اهمیت په لحاظ هم، ځکه لومړی ځل و، چې د اولس له نماینده ګانو سره دولتي اسرار تر بحث لاندې ونیول شول او حتی دوی پرې وپوهول شول.

کله چې جرګې ته وړاندې کېدونکي موضوع د اهمیت او کیفیت له مخې لویه او پراخه وي له جرګې سره سم د لویه کلمه زیاتېږي او لویه جرګه یې بولي، زموږ په تاریخ کې د لویوجرګو شمېره زیاته ده او په سلهاو جرګې شته، چې مهمې تاریخي پرېکړې یې کړي او تاریخي ارزښت یې خوندي شوی دی.

د جرګې همدا اهمیت او ټولنیز ارزښت دی، چې افغاني حکومتونو (خصوصاً تر خپلواکۍ وروسته) لویه جرګه د ملت د ارادې په توګه په رسمیت ومنله او د راغوښتو ټاکلي وختونه یې ورته وټاکل، تر دې چې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې لویې جرګې ته یو ځانګړی څپرکی پرانستل شو ، په دې قانون کې پر لویه جرګه سربېره هغو ټولو ادارو ته، چې د ولس له انتخاب او نظر سره تړلې دي د جرګې بشپړوونکی نوم ورکړی شو، لکه: د پارلمان دواړو مجلسونو: ملي شورئ او مجلس اعیان (سنا) ته د ولسي جرګه او مشرانو جرګه نوم ورکړ شو او په ولایتونو کې، د خلکو جرګې ولایتي جرګې وبللې شوې او د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د کار انجمنونو ته د جرګه ګیو نوم ورکړشو.

په دې ډول جرګه په رسمي توګه له ولس سره د ترلیو ټولو انتخابي بهیرونو له پاره وکارول شوه.
مشورتي لویه جرګه چې د کابل د حکومت له خوا په ډېره بیړه کار وربانډې روان دي داسي تشریح شوی ده :
خو دمشورتي لویې جرګېوېبپاڼه کې لیکل شوي چې: "جرګه د قوم د مشرانو او مخورو هغي ټولنې ته ویل کېږي چې په محلي، ملي، سیمه ییز او نړیواله کچه د پرېکړو او د هغو د پلې کولو واک ولري". دغه تعریف د جرګو هغه رول ته په پام سره شوی، چې د افغانستان سیمه ییزو، سیاسي او بهرنیو مسائلو کې یې نقش لرلی دی.
دغه تعریف د افغانستان د اساسي قوانینو د لویې جرګې له تعریف سره توپیر لري. د ۱۳۴۳ اساسي قانون د غړو جوړښت، واکونه او د جوړېدو څرنګوالی یې په یوه ځانګړي فصل کې تعریف شوی، خو پخپله جرګه په کې لنډه تعریف شوی ده.
د افغانستان اوسني اساسي قانون شپږم فصل یوسلو لسمه او یوولسمو مادو کې لویه جرګه داسي تعریف شوي ده:
"لویه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې ترټولو ستر مظهر دی.
د لویه جرګه جوړښت
۱: د ملي شورا له غړیو
۲. :د ولایتونو او ولسوالیو د جرګو له رئیسانو
۳: وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي کولای شي د لویې جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون وکړي.
یو سلو یوولسمه ماده: لویه جرګه په لاندینیو حالاتو کې دایریږي.
۱: د هېواد د خپلواکی، ملي حاکمیت، ځمکنی بشپړتیا او په سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصمیم نیول.
۲: ددې اساسي قانون د حکمونو تعدیل.
۳: ددې اساسي قانون د (نهه شپېتمې) مادې له مخې د جمهور رئیس محاکمه کول. یوسلو دولسمه ماده: لویه جرګه په لومړۍ غونډه کې، د غړیو له منځه یو تن د رئیس، یو تن د مرستیال او دوه تنه د منشی او دمنشي د نایب په توګه ټاکي.
اوس مشورتي لویه جرګه چې د کابل د حکومت له خوا په ډېره بیړه کار وربانډې روان دي:
اول خو د افغانستان د اساسي قانون سره په تناقض کې هم د تعریف او هم د محتوا له نظره.
دوهم په دې کمه موده کې به لا محاله وي چې په ریښتیا سره د ولسونو ریښتیني استازي و پیژندل شي او بیا راوغوښتل شي.
دریم له نوم څخه یې ښکاري چې کومه پریکړه نه شي کولی ځکه چې هدف یې صرف مشوره ده دا به داسي وي لکه د ابوالفساد حامد کرزی مشورتي لویه جرګه چې حضرت صبغت الله مجددی ورته ویل "امضأ کو ریس صاحب اګر نی مه خفه میشم استعفا میکنم از وطن هجرت میکنم" کرزی ورته وویل "برو بخیر پناه ات بخدا" نو د دغه مشورتي جرګه راتلونکی همداسي دربولي، او دا امکان هم شته چې دغه جرګه بر خلاف د اجندا د داکتر اشرفغنی څخه وغواړی چې استعفا وکړي او پر یوه موئقت حکومت فی المجلس فیصله وکړي نو دا ډول احتمالاتو ته په کتو او هم د ځینو افغانی مشرانو ابن الوقتي ته په کتلو کیدای شي کوم داسي حیرانونکي کیسه داکتر اشرفغنی ته ور جوړه کړی چې نه به منلي شي او نه به ردولی شي نو هغه کسان چې د اشرف غنی له تیم سره ارتباط لري دا مطلب د ور ورسوي.
څلورم کله چې ارګ مشر مشورتي بورډ پرته له مشورې په عجله جوړ کړ ډیرو شخصیتونو هغه رد او له ګډون څخه یې ډډه وکړه دیته په کتو ممکن ډیر مهم او مطرح شخصیتونه په مشورتي جرګه کې هم ګډون و نه کړي دا به بیا بله ناکامی وي د حکومت لپاره.
د پاسنیو دلایلو پر بنیاد راتلونکي مشورتي لویه جرګه هسی ضایع د وخت او امکاناتو ده، صرف یو څو پلو خوران ، د چورلمان او د کابینې سرپرستان وزیران ( وزیران خو هسي د اشرف غنی په حکومت کی نشته ) به یکې راټول شي بناغلي ولسمشر به څو لوړې چیغې وکړي وسلام او نتیجه به صفر وي .

د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ په داسي حال کي چی بل دور د مذاکراتو همدا اوس په قطر کی روان دی بیا ګورو چي د دولت استازو پکي نشته دی، دا مذاکرات که څه هم نوی انکشاف دئ او ځینو ته ئي هیلي راټوکولي خو د ناستي ترکیب، د حکومت غیر فعاله دیپلوماسي او جنګي دریځ هغه همداسی چی د امریکا اوسني حکومت اشتها د دوامدار جنګ نلری، د بندو دروازو تر شا مذاکراتو او ناځرګند اجندا او د ځینو لوریو غیرمسئولانه اظهاراتو؛ د هېواد دننه او بهر تشویشونه او اندېښني راولاړي کړي دي.

په دې کي شک نشته چي افغان ولس له رواني بدمرغي جګړي ستړی شوی او باعزته سوله غواړي؛ خو داسي سوله چي د بین الافغاني مذاکراتو او روغي جوړي په نتیجه کي رامنځته شي، د ناستي اصلي لوري افغانان وي، د افغانانو د خوښي حکومت، د قانونمن اسلامي نظام تأسیس، ځمکنی بشپړتیا، ټولنیز او سیاسي عدالت، د ملي ګټو خوندیتوب او د ملي ادارو تحکیم او ثبات تضمین کړي؛ نه هغه سوله چي شروع د بل خوندي جنګ وي، همغسي لکه چي د شوروي ځواکونو د وتلو په وخت کي د ژنیو په مذاکراتو کي اصلي لوري مسکو، واشنګټن او اسلام آباد وو، د کابل حکومت استازي هم بلل شوي وو خو د مجاهدینو په غیاب کي د سولي تر نامه لاندي داسي توافق رامنځته شو چي یوازي د شوروي ځواکونو وتلو ته ئي پټمنه بڼه ورکړه، مخکنی جګړي ته ئي په نوې بڼي کي د دوام لار پرانسته، چي په نتیجه کي ئي ملي اداري او بنسټونه ویجاړ، د نوییمي لسیزي ترخي پیښني رامنځته شوې او همغي جګړي تر ننه دوام وکړ،یو شی باید واضیح کړم چی د جینوا په مذاکراتو کی د مجاهدینو تنظیمات قصداً د چودري جینیجو لخوا چه د پاکستان د هغه وخت صدراعظم وو په حاشیه کي پاتی شول او پرینښودل شول چی د روسانو سره مستقیما خبرې وکړی با وجود د دی چي د مجاهدینو مشرانو ډیرې زیاتي هلي ځلي وکړې حتي د حزب اسلامی مشر حکمتیار او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر سردار محمد یعقوب خان تر نمنځ شدید لفظي برخورد صورت موندلي وو هغه همداسي چي د حزب اسلامي مشر ورته په ډاګه ویلي وو چي مری افغانان ، جنګ د افغانانو او روسانو تر نمنځ دی او موافقتنامه تاسي امضا کوی دا کوم انصاف او منطق دی خو یعقوب خان په ډیره تنده لهجه افغاني مشرانو ته ویلي وو موږ خپل مجبوریتونه لرو او د حکمتیار اظهارات زموږ په امور کی مداخله ده موږ یی نه شو منلی، خو نن طالبانو د پرون مجاهدین ندي صرف د کویټه شورا د پاکستان د حکومت ترکنټرول لاندی ده ولی مهمترین مشران یی اوس په قطر کی دی،مهاجرین هم دومره ندی د پاکستان د ننه لکه په اتیا ومه لسیزو کی او د طالبانو اصلی جنګیالي په افغانستان کی دی نو زما په اند د قطر مذاکرات د جینوا تر مذاکراتو د افغان ولس په ګټه دی د مخالفت پر ځای یي ښه ده چي ملاتړ یي وشي. .

افغانان هیچا ته اجازه نه ورکوي چي د سولي له نامه په استفادې سره خپلي ناولي موخي په ملت تحمیل کړی،ټاکني مهمي دي خوپارلماني ټاکني موولیدې چي څومره شرموونکي وې او متاسفانه حکومت یا که بهتره وویل شي ولسمشر اوولسکشر ډېل عبدالله په ضعیف مدیریت هم ځانونه وشرمول او هم د ټاکنو غل کمیسیون، د ولسمشر له عجایبو یو خو هم دا دي چي ټاکنیز کمشنرانو یی فاسدین وبلل او ټول یی برطرف او ممنوع الخروج کړل ، او اوس د څارنوالی تر تحقیق لاندی دی خو ټاکني بیا مشروع دي حي علی اللعجب او سبا به همدغه غیر قانوني پارلیمان په خپلو چیغو پرانیزي او دا به یو بل ناورین وزیږوي ، دېته په کتو نه ملت او نه هم احزاب په راتلونکو ولسمشر ي ټاکني چي د ارګ او سپیدار د اراېشخانی تر اشراف لاندی به کیږي باور لری طالبان خو لا پرېږده . سوله قرباني غواړي او دې قربانی ته باید هر رښتینی افغان چمتو وي. که موقت حکومت یا د واک په جوړښت کي هر ډول بدلون د داېمني سولي متضمن وي، باید پر وړاندي ئي خنډونه رامنځته نه شي ولو چي موئقت حکومت ډېره ښه انتخاب ندي خو تر جعلي ټاکنو به پایلي ښې وی.

د بین الافغاني مذاکراتو او تلپاته سولي لپاره معقوله طرحه دا ده چي یو ملي، ځواکمن، باصلاحیته او د هېواد ټولو مطرحو اړخونو ته د منلو وړ هیئت جوړ شي. دغه هیئت به د سولي لپاره د ملي اجماع د رامنځته کولو ترڅنګ د مذاکراتو او د

سولي په ارتباط د هري پربکړي او وروستي تصميم يوازينی عالي او معتبره مرجع وي. په دې سره به په جګړه کې د ښکېلو اړخونو هر ډول بهاني له منځه ولاړي شي او روان مذاکرات به سوچه بين الافغاني بڼه خپله کړي.
او همدارازد سولي او بين الافغاني مذاکراتو په اړه د امريکا متحده ايالاتو وروستي اقدامات او د خپلو ځواکونو د ايستلو په اړه د دوی اظهارات تأييدوو او په دې باور چي جنګ يوازي هغه مهال پای ته رسېدی شي چي ټول کورني او بهرني عوامل ئي له منځه ولاړ شي، لکه څنګه چي نن متحده ايالات هم د خپلو ځواکونو ايستلو ته چمتو شوي، هيله ده دا وتل د يوه معقول او د منلو وړ مهالوېش مطابق او مسئولانه ترسره شي، وتل ئي له افغان لوري سره د توافق له مخي وي، او نه د شوروي ځواکونو د وتلو په څېر چي يوه اوږده جګړه ئي ترشا پرېښوده. .
د ولسي جرګي له تقلب او درغليو ډك تېر انتخابات، ناسالم مديريت ئي، بدي پايلي ئي، د چارواکو لاسوهني، د رغنده او شفافو انتخاباتو په ترسره کولو او د يوه صالح، موفق، معتبر او اهل کميسيون په جوړولو کي د حکومت بشپړه ناکامي، او له څلورو مياشتو تېرېدو وروسته هم د انتخاباتو د غيرثقه نتائجو عدم اعلان؛ هغه څه دي چي افغانان ئي هم د انتخاباتو د افاديت په اړه بي باوره کړل او هم په دې اړه چي انتخابات کولی شي د بحران په حل کي مرسته وکړي، د انتخاباتو دې ناکامي لوبي افغان ولس د راتلونکو ولسمشريزو انتخاباتو او اړوندو بنسټونو د کفائت او د حکومت د ارادې او عزائمو په اړه شکمن او اندېښمن کړي. تر ننه د دولت له لوري د راتلونکو انتخاباتو لپاره نه کوم اجراءات شوي او نه کوم تياری ورته نيول شوي، کله يوه نېټه اعلان شي او کله بله، ټول اعلانات او اجراءات يو اړخيز او د څو چارواکو له لوري په خپلسر، غيرقانوني او له سياسي ګوندونو او د جمهوري رياست له نوماندانو سره له تفاهم او توافق پرته.
له بده مرغه اوسنی حکومت د ګنو داخلي کړکېچونو ترڅنګ؛ د لويو ملي قضاياوو په سالم او رغنده مديريت کي پاته راغلی. د ۱۳۹۷ کال د ولسي جرګي انتخابات له درغليو او فساد ډك وو، په نتيجه کي ئي د واجد شرائط افغانانو ډېری د رأی کارولو له مسلم حق؛ قصداً او عمداً او د ناولو سياسي عزائمو او موخو له کبله محروم کړی شول، د ډېرو رأيي هدر ولاړې او د دوی استازو ولسي جرګي ته لاره و نه مونده. د جمهوري رياست انتخابات هم راروان دي، حکومت او کميسيونونه ئي پر وړاندي سره له همدا اوس د تقلبي ټاکنو په مهندسی کار کوي نتيجه به تر پخوانيو ټاکنو هم شرمونکي وي. وماعليناالاالبلاغ

پای